د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

ګڼه: 402

(17 مرغومی – 23 مرغومی 1401 هـ ش)

# له زده کړو څخه د ښځینه زده کوونکو منع کول او د هغو پایلي



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- له زده کړو څخه د ښځینه زده کوونکو منع کول او د هغو پایلې .......................................... 3
- سریزه.......................................................................................................... 3
- ولې پوهنتونونه د نجونو پر مخ بند شول؟ ............................................................ 6
- داخلي او خارجي پایلې .................................................................................. 8
- داخلي پایلې ............................................................................................... 8
- بهرنۍ پایلې ............................................................................................... 9
- پایله .......................................................................................................... 10
- مأخذونه:.................................................................................................... 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## له زده کړو څخه د ښځینه زده کوونکو منع کول او د هغو پایلي

### سریزه

د روان کال د لیندۍ په ۲۹ مه نېټه د اسلامي امارت د کابینې په تصویب سره د لوړو زده کړو وزارت له خوا پوهنتونونو ته د نجونو د داخلیدو د منعې په اړه یو مکتوب خپور شو چې په ملي او نړیواله کچه یې غبرګونونه راوپاول. د اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت سرپرست شیخ الحدیث ندا محمد ندیم په یوه تلویزیوني مرکه کې د دې کار لاملونه داسې بیان کړل: "د پوهنې په نظام کې ستونزې وې او چارواکو ژمنه کړې وه چې دا ستونزې به حل کوي، خو داسې ونه شول، څنګه چې زموږ نظام اسلامي دی، شرایط هم باید اسلامي وي". هغه زیاته کړه "موږ د دیني غوښتنو او د مسلمان ملت د نظریاتو له امله اړ شو چې د پوهتنون په کچه د نجونو زده کړې تر دویم امره پورې وځنډوو". څه موده وړاندې د امربالمعروف او نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت سرپرست وزیر خالد حنفي د یوې وینا پر مهال علوم په دیني او معاصرو برخو وویشل او ویلي یې وو چې د عصري علومو زده کړه یو مباح عمل دی. په داسې حال کې چې اکثره پوهان د معاصرو علومو لاسته راوړل په ځانګړې توګه هغه علوم چې ټولنه ورته اړتیا لري او د ټولنې د پرمختګ باعث ګرځي، فرض کفائي ګڼي. د دې مسئلې په تړاو د ځینو اسلامي هیوادونو، لکه: سعودي عربستان، ترکیې او په افغانستان کې دننه او بهر د اسلامي دعوت په ډګر کې ګڼو شخصیتونو، ټولنو، اتحادیو او فعالانو غبرګون ښودلی دی، دوی د اسلامي امارت دغه کړنه د اسلامي اصولو او ارزښتونو خلاف وبلله. موږ کولای شو د الازهر د شیخ دکتور محمد طیب، د اسلامي علماؤ اتحادیې، رابطه عالم اسلامي او د اسلامي نړۍ د ډېرو معتبرو علماوو ویناوو ته اشاره وکړو. تر دې وړاندې اسلامي امارت د خپل حکومت په لومړنیو ورځو کې منځنۍ ښوونځي او لیسې د ښځینه زده کوونکو پر مخ وتړلې او ژمنه یې وکړه چې ډېر ژر به د ښوونځیو دروازې د ښځینه زده کوونکو پر مخ پرانیځي. خو له څه باندې یو کال وروسته هم د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانیستلو په اړه کومه پریکړه نه ده شوې. دا خبر په داسې حال کې خپرېږي چې د هیواد د زده کوونکو شاوخوا دوه سوه زره یې نجونې دي. ددې ترڅنګ د اسلامي امارت تر راتګ وروسته په هېواد کې شاوخوا ۴۰سلنه خصوصي پوهنتونونه د مالي ستونزو له امله د سقوط له ګواښ سره مخامخ دي، په دې لیکنه کې به د اسلامي امارت په سیوري کې د لوړو زده کړو د څرنګوالي، د اسلام له نظره د ښځو د تعلیم د مشروعیت لاملونه، ولې پوهنتونونه د ښځینه محصلینو پر مخ تړل شوي؟ او د هغو پر پایلو بحث کوو.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## لوړې زده کړې د اسلامي امارت په سیوري کې

که څه هم د اسلامي امارت ډیری غړیو په دیني مدرسو کې سبقونه لوستي دي، او زیاتره یې لوستلو او لیکلو ته لاسرسی لري. په هر صورت، د حکومت له پیل راهیسې، په عصري بڼه کې د زده کړې په اړه د دوی باور په ځانګړې توګه د نجونو تعلیم له ناڅرګند دریځ سره مخامخ دی. څرنګه چې په کال ۱۳۷۸ کې د حکومت په لومړیو دریو کلونو کې د ښځینه زده کوونکو سلنه ۷ سلنې ته راټیټه شوې او په مکتبونو پنځه کلنه دوره کې هم له شپږم ټولګي څخه پورته نجونو ته د زده کړو اجازه نه وه. که څه هم دوی منلې ده چې اسلامي امارت د نجونو د تعلیم مخالف نه دی، خو که له ۱۹۹٦ تر ۲۰۰۱ کلونو پورې وي او که اوس، د پوهنتونو دروازې په عملي ډول د نجونو پر مخ تړل شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې د جمهوري ریاست له سقوط او د امارت په راتګ سره، د کانکور په ازموینه کې د ګډون کوونکو شمېر نژدې ۵۰ سلنه کم شوی دی. د ۱۴۰۱ هـ ل کال د کانکور په آزموینه کې د ګډون کوونکو شمېر شاوخوا ۱۰٦ زره تنه وو، په داسې حال کې چې د ۱۴۰۰ هـ ل کال د کانکور په آزموینه کې د ګډون کوونکو شمېر نژدې ۱۸۰ زره تنه وو چې ۸۰ زره یې نجونې وې. د وروستیو شمېرو له مخې، په ۴۰ دولتي او ۱۴۰ خصوصي پوهنتونو کې د محصلینو شمېر ۵۰۰ زرو ته رسیده، چې نژدې ۲۰۰ زره یې ښځینه محصلنې دي. د دې پر بنسټ که ښځینه محصلینې له پوهنتونو و ایستل شي، د محصلینو په شمېر کې به ۴۰ سلنه نور هم کموالی راشي. له بلې خوا د ښځینه محصلینو د بندیز د فرمان په صادریدو سره نه یوازې په بېلا بېلو کچو(لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا) برخو کې زده کوونکې بې برخلیکه دي، بلکې ددې محرومیت په اساس د هیواد په بېلابېلو پوهنتونو کې لسګونه نارینه محصلینو او استاذانو اعتصاب کړی او استعفاوې یې ورکړې دي او پوهنتونو ته یې له تګ څخه ډډه کړې ده. دغه کړنه هغه ادعا هم توجیه کوي چې د احصایې له مخې ۲۰۰ استادانو خپلې دندې پرېښې او داسې ښکاري چې د نجونو د زده کړو په اړه دا ډول چلند به په هیواد کې د نوي یمې لسیزې په څیر د تعلیم وضعیت بیرته شاته بوځي.

## د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو د مشروعیت دلایل

په بشري ټولنو کې ښځې د یوې زیان منونکې ډلې په توګه تل د دولتونو لخوا د زور زیاتیو قرباني شوې دي. لکه څنګه چې مخکې د فرانسې حکومت په ۲۰۰۴ کال کې داسې قوانین وضع کړل چې د حجاب په اغوستلو نجونې پوهنتونو ته له تګ څخه منع کوي او اوس د اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت سرپرست د ځینو ښځینه محصلینو لخوا حجاب ته د نه پاملرنې له امله پوهنتون ته د نجونو د ورتګ د منع کولو دلیل وړاندې کوي، خو اسلامي امارت تر اوسه پورې د اسلام له نظره د ښځو د تعلیم د منع کولو لپاره کوم معقول دلیل نه دی وړاندې کړی، خو د اسلامي امارت د ځینو چارواکو د څرګندونو له مخې له شرعي نصوصو څخه د دوی د درک او تفسیر څرنګوالی د ښځینه محصلینو له زده کړو څخه د مخنیوي لوی عامل



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دی. لکه څنګه چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت سرپرست وزیر د خپلو ویناوو په ترڅ کې علوم په دیني او عصري برخو ووېشل او حکم یې وکړ چې د عصري علومو زده کړه یو مباح عمل دی. د حنفي فقهې د معتبر کتاب (رد المختار) پر بنسټ هغه علوم او فنون چې په ژوند کې ورته اړتیا لیدل کیږي، د کفایت په اندازه فرض بلل شوي دي او د فقهاوو اکثریت هم معاصر علوم د ټولنې د ضروت او د پرمختګ لپاره په فرض کفایي باندې متفق دي. دا سمه ده چې زموږ ټولنه د عصري علومو ترلاسه کولو ته سخته اړتیا لري. پر دې سربیره د اسلام مبارک دین ښځې ته د ژوند په بیلابیلو برخو کې لکه عبادات، راکړه ورکړه، امر په معروف او نهی عن المنکر، د وظیفې او مسؤولیت تاکلو کې د برابرۍ او د مال په تصرف کې مساوي خطاب کوي. همدارنګه یې د فرد، کورنۍ او ټولنې د اصلاح او د ټولنیزو او کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې زده کړو او تربیت ته هڅولې او د علم په لټه او تر لاسه کولو کې د نارینه او ښځینه وو تر منځ هیڅ توپیر نه دی کړی. الله سبحانه وتعالی په خپلو لومړنیو آیتونو کې انسان ته د (اقراء) په کلمه خطاب کړی دی او ټل یې انسانان دې ته هڅولي دي چې زده کړه وکړي، لوستل او لیکل وکړي او علم ترلاسه کړي. عالمانو ته یې له یوې خوا نسبت هغو خلکو ته چې علم ونه لري لوړوالی ورکړی او له بلې خوا یې علم د ځان د پیژندلو لپاره بشریت ته وریپژندلو، له بلې خوا یې په مبارک ایات کې (إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عَبَادِ الْعَلَمَاُ) په ځانګړي ډول د علماوو لپاره د بندګۍ لوړو درجو ته د رسیدو لپاره بیان کړي دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې چې د علم زده کړه یې پر مسلمانو نارینه وو او ښځو فرض کړې، علماء یې هم د پیغمبرانو وارثان ګڼلي دي. رسول اللهص کله د عالمانو فضیلت د نورو ستورو په نسبت د لمر له فضیلت سره او کله یې د نورو خلکو په نسبت د هغه له فضیلت سره پرتله کړی دی. الله جل جلاله بشارت ورکوي چې پرښتې او د اسمانونو او د ځمکې خلک، حتی مرغۍ په ځاله کې او د بحر په ژورو کې ماهیان پر هغو کسانو سلام اچوي چې علم لري او خلکو ته ښه درس ورکوي. په دې ټولو مواردو کې ښځه د نارینه وو ترڅنګ ده او هیڅ استثنا یې نه ده یاده شوې .

که څه هم په دې ورځو کې یو تعداد د یو حدیث په استناد غواړي چې د نجونو د تعلیم منع په ثبوت ورسوي، ګویا چې په دې حدیث کې د نجونو د تعلیم او تعلم منع راغلې ده. په دې جعلي حدیث باندې دلیل راوړي: " لاتنزلوهن الغرف ولاتعلمونهن الکتابه وعلموهن المغزل وسورةالنور" ترجمه: ښځې مو د کور په پورته ځایو کې کښینوئ او هغوئ ته لیکل مه ورزده کوئ، لیکن هغوی ته رسۍ ګنډل او سورت نور ورزده کړئ". ولې ددې حدیث په صحت کې هیڅ معتمد سند نه لري. ډیرو محدثین له هغې ډلې ابن عدی، ابن جوزی، ابن حجر، محمدبن طاهر المقدسی، ابن العدیم، علامه شیخ عسافي و... ددې حدیث تړاو له رسول الله ص سره رد کړی دی. دا حدیث ځینې نورو موضوعي بللی او ضعیف سند لري او یا هم د نورو راویانو په خبر تړاو یې له رسول الله ص سره درست نه ګڼي، او دا حدیث د جعلي حدیثو له ډلې شمېري.

څرنګه چې د نبي ص سنت په دې موضوع باندې تاکید کوي. شفاء عدي د عدي قبیلې یوه نجلۍ له لیکلو سره بلده وه او هغې نجونو ته د جاهلیت په دور کې لیکل ور زده کول او حضرت حفصه رض الله عنها له رسول



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

الله ص سره له واده مخکې لیکل یې له همدې نجلۍ څخه زده کول، کله چې یې واده وکړ، له شفاء یې وغوښتل چې د لیکلو زده کړې ته ادامه ورکړي، ترڅو خط یې صحیح او ښکلی شي او هغې همداسې وکړل.

په حقیقت کې هغو کسانو ته چې له رسول الله ص څخه یې د حدیثو روایت کولو د لیکلو او ویلو تعلیم هغوی ته ضروري وو. ښځو هم په دې کار کې ګډون کړی وو. همدارنګه ډېر روایتونه موجود دي چې مسلمانو ښځو د تاریخ په اوږدو کې دین او دیني تحقیقاتو ته ډېر اهتمام کړی دی، په ځانګړې توګه په روایت د حدیثو شریفو کې، ابن حجر په خپل کتاب "تمییز الصحابه" کې د پنځو محدثو یادونه کړې ده، او د هغوی په اړه یې ویلي دي. " أنهن ثقات عالمات" هغوی عالمې او معتمدې دي.

د ښځو کړنې یواځې په دیني زده کړو او د حدیثو په روایاتو باندې نه خلاصه کیږي، بلکې دوی په شعر، ادب، خط، طب او نرسرۍ ته هم لاسرسی درلود. حضرت عایشې نه یواځې چې د احادیثو په روایت او دیني علم کې لوړه درجه درلوده، بلکې په ادب او د عربو په انساب، طب او شعر ته هم لاسرسی درلود. څنګه چې هشام بن عروه له خپل پلار څخه نقل کوي: ما په طب، فقه او شعر کې د عایشې رض څخه داناتر نه دي لیدلي، کله چې سوال وشو، علم له کومه شو؟ جواب ورکړل شو. "کله به چې نبي کریم ص ناجوړه کیدهٔ، د هغه مبارک د تداوۍ لپاره به عرب او عجم ډاکټران لیږل کیدل او له هغوی څخه یې زده کړه وکړه."

په حقیقت کې د ادب تاریخ له داسې مسلمانو ښځو څخه ډک دی چې په شعر او ادب کې یې لوړه درجه درلوده او امام سیوطي په خپله مخطوطه "نزهة الجلساء فی أشعار النساء" کې د ۳۷ مسلمانو شاعرو ښځو نومونه ذکر کړي دي او همدارنګه امام الآصفهانی په کتاب "الاغانی" کې د ښځو یادونه کړې ده چې په سیاست کې یې هم برخه درلوده او هم د خپلو نظر وړو حزبونو څخه یې حمایت کړی دی، په ځانګړې توګه د حضرت علی کرم الله وجهه او حضرت معاویه رضی الله عنه د اختلاف پر وخت.

پورته موضوعاتو ته په پام ځرګندېږي چې د اسلام په ښوونه کې داسې کوم شرعي نص موجود نه دی چې ښځې له تحصیل او ښوونې څخه منع کړي او هم اسلامي تاریخ داسې څه نه لري چې ښځې دې له تعلیم څخه منع شوې وي. اسلامي فقهاو داسې څه په صحیح سند سره نه دي ذکر کړي چې د هغو په اساس ښځې له تعلیم څخه منع کړی شوې وي. بلکې اسلام ښځو ته اجازه ورکړې ده چې له متنوع تعلیم څخه، ګټور ادبیات او مختلف فرهنګونه تر لاسه کړي. د مسلمانې ښځې د کرامت او وقار ساتنه یو له فرایضو څخه دي، چې نه یواځې د زده کړو پر وخت، بلکې د ژوند په ټولو برخو کې باید محفوظ او مصؤن اوسي.

## ولې پوهنتونونه د نجونو پر مخ بند شول؟

که څه هم څو ځله د اسلامي امارت رسنیزو اعلامیو خلکو ته اطمینان ورکړی چې د نجونو له زده کړو سره مخالفت نه لري او هم د لوړو زده کړو وزیر د داخلي او خارجي غبرګونونو ته په کتو ددې وضاحت چې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ولې يې د نجونو پر مخ د پوهنتونونو دروازې بندې کړې ووېل "په تحصيلي نظام کې متکراتو شتون درلود او مسؤلينو يې د حل کولو ژمنه کړې وه، ولې حل نه شول، څنګه چې زموږ نظام اسلامي دی بايد شرايط هم اسلامي وي" او همدارنګه يې په ولايتونو کې د ښځينه ليليو فعاليت د افغاني او اسلامي غيرت خلاف وباله، د ښځينه محصلينو له خوا د پوره حجاب نه مراعت کول او په هغو برخو کې د هغوی شتون چې د ښځو لپاره سازګار نه دي او د هغوی د عزت او وقار لپاره مساعد نه دي، د دې حکم د تنفيذ لپاره اصلي دلايل وښودل.

دا خبرې په داسې حال کې د اسلامي امارت د لوړو زده وزير له خوا کيږي، چې نه يوازې د اسلامي امارت په راتګ سره د نجونو ټولګي له هلکانو څخه جلا شول، بلکې د هغوی درسي وختونو هم سره تفاوت درلود. په يو شمېر پوهنتونو کې نجونې د سحر له خوا او هلکان له ماسپښين وروسته خپلو درسونو ته حاضريدل او په ځينو نورو کې يې درسي ورځو هم فرق درلود. بعضې خصوصي پوهنتونونه، لکه: مورا د تأسيس راهيسې د نجونو لپاره ځانګړې وو. نور پوهنتونونه، لکه: سلام پوهنتون، دعوت پوهنتون او داسې نور... د ښځينه محصلينو لپاره بېل تعمير او بيل ټولګي درلودل، چې د هلکانو او نجونو ترمنځ هيڅ اختلاط شتون نه درلود.

له بلې خوا د اسلامي ثقافت مضمون په اونۍ کې له يو ساعت څخه ځلورو درسي ساعتونو ته لوړ شو او نجونې په اسلامي لباس ملبسې وې، ولې ډېر لږ شمېر ښځينه محصلينو د ناپوهۍ او سهل انګارۍ په دليل پوره حجاب نه مراعت کولو. همدارنګه د ښځينه محصلينو لپاره له پخوا جلا ليليه په نظر کې نيول شوې وه، چې هيڅ اختلاط يې له هلکانو سره موجود نه وو. نه يوازې دا چې په ښوونيزو مرکزونو کې هيڅ اختلاط شتون نه درلود، حتی ښوونکي يې هم تر ډېره حده ښځينه ښوونکې وې.

که نصاب د نجونو د تعليم د بندولو څخه يوه ستونزه وګڼل شي، ګمان نه کيږي چې د نصاب ستونزه دې دغه حد ته ورسيږي چې د نجونو پر مخ د پوهنتونو دروازې وتړل شي، له بلې خوا د نصاب د ستونزو د لرې کولو او په نصاب کې د ضرورتونو ځای پر ځای کول، يوې اوږد مهالې پروسې او ځانګړو امکاناتو ته ضرورت لري، چې په څو محدودو مياشتو کې ددغې ستونزې له منځه وړل ناشونې ښکاري. دويم دا چې د لوړو زده وزارت د نصاب رياست ته په اوايلو کې ددې هدف لپاره وظيفه وسپارله او تر اوسه هم دا پروسه دوام لري او دريم دا چې اوسنی ښوونيز او تحصيلي نصاب داسې نه دی ترتيب شوی چې ممکن شاګردان او محصلين د اسلام له چوکاټ څخه بهر کاندې، که چيرې دا نصاب د اسلامي زاويې له نقطه نظره په نسبي ډول د نورو اسلامي هيوادونو له نصاب سره پرتله شي، د نظر وړ لوړوالی او فوقيت لري. د ښوونځيو او پوهنتونو اوسنی تعليمي نصاب هم د نورو برخو غوندې بيا کتنې ته اړتيا لري او دا يوه طبيعي پروسه ګڼل کيږي. چې هيڅکله هم د تعليمي او تحصيلي پروسو د تعويق او تعطيل غوښتنه نه کوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## داخلي او خارجي پايلې

لوړوالی او د انسان(نر او ښځه) كرامت د اسلام لومړنی، بنسټيزه او ارزښت لرونكې ښوونه ګڼل كيږي، چې هيڅ كله هم د هغوی تر منځ اختلاف نه مني. نر او ښځه دواړه د الهی او د اسلام لومړني پيغام(اقرآ) مخاطب ګرځول شوي دي. معرفت او د علم او پوهنې زده كړه په دواړ فرض ده. اسلامی تمدني تاريخ د دې ګواه دی، چې مخكې يې خلاصه وړاندې شوه.

د ښځې له تعليم او پوهې څخه محروموال، كه څه هم د يو څه لږ وخت لپاره وي، د ژوند كاروان ممكن تر ډيره وخته پورې پر شا بوځي او انسانی ټولنه ممكن له تمدني پړاو څخه وروسته پاتې كړي. دا دريځ چې د هيواد ټول كارپوهان او نور اسلامي هيوادونه او نړی يې په تعجب كې اچولي ده، له شک پرته به ډيرې ناوړه پايلې په داخلي او خارجي برخو كې له ځان سره ولري، چې يو څو ته يې لنډه اشاره كوو:

## داخلي پايلې

- دا دريځ چې په ډيرو رسنيو كې ښكته پورته شو، دا ښكاره كوي چې د امارت په مختلفو برخو كې د دې موضوع په اړه د رای اتفاق شتون نه لري او د بې اعتمادی فضا يې را منځ ته كړې ده، چې دا به د اسلامي امارت لپاره ستونزمته وي.

-دا دريځ چې د خلكو له عمومي نظرياتو سره په ټكر كې دی او ټول يې حيران كړي دي. د ملت او امارت تر منځ يې د بې باوری فضا زياته كړې او د خلكو تر منځ به د ناهيلی دايره نوره هم پراخه كړي.

-دا دريځ د مهاجرت لړی نوره هم توندوي، ډيری خلک به ممكن له هيواده د بهر وتلو لپاره د قانونی او غير قانونی لارو د موندلو هڅه وكړي، تر څو د خپلو اولادونو لپاره د تعليم او تحصيل زمينه مساعده كړي.

-دا دريځ به ددې سبب شي چې د اسلامي امارت نور ګټور او مثبت كارونه په ټولو برخو كې ناديده وګڼل شي او تېر شوی فساد په يو نه يوه بڼه توجيه شي .

-دا دريځ به نه يواځې نجوني له تعليم څخه لرې وساتي، بلكې د علم او پوهې هغه انګيزه چې په نورو ټولو قشرونو هلكانو، پلرونو، استاذانو او ښوونكو كې چې په يو نه يو شكل په دې پروسه كې ګډون لري، له منځه يوسي.

-دا دريځ ممكن د اوږد مهال لپاره خپل ناوړه ټولنيز تاثيرات له ځان سره ولري. علاوه له جرمونو څخه، د بې سوادی او ناپوهی، خرافاتو او د ټولنيزو جنايتونو ګراف ممكن پورته ولاړ شي.

- دا دريځ به په تاريخ كې د داسې كړنې په څير چې په اسلامي تاريخ كې هيڅ سابقه و نه لري او نه هم كومه شرعي او منطقي توجيه ولری ثبت شي او له هره نظره ورته وكتل شی، د بشری ټولنې په ځانګړې توګه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د افغانی ټولنې لپاره به هیڅ خیر ونه لري او هر څومره چې دا دریځ وخت نیسی د هغه منفي عکس العملونه به زیاتیږی.

## بهرنۍ پایلې

-دغه دریځ ته د هغو اسلامي علماوو او ټولنو له خوا د شک په سترګه کتل کېدل چې د اسلامي امارت په پیل کې یې ډېر خوښې او مثبت چلند ښودلی و او له هغه وروسته یې د اسلامي امارت چارواکو ته د خیریه مشورو سپارښتنې وکړې. بې له شکه چې د دغه دریځ دوام به د بهرنې ملاتړ په کمزوري کولو کې ډېر اغېزمن تمام شي، چې دا مجلسونه د نړۍ د اکثریت مسلمانو په ملاتړ له امارت سره دوام لري. د اسلامي نړۍ د عالمانو له اتحادیې سره په کتنه کې پاتې راتلل او د دې مسئلې په اړه د هغوی اعلامیه یوه له دغو مواردو څخه ده .

-دې دریځ له ځان سره د اسلامي هېوادونو غبرګونونه هم لرل او په لومړي سر کې یې د دې دریځ د مخنیوي لپاره اعلامیه خپره کړه او له شک پرته دغه دریځ به له اسلامي امارت سره د دغو اسلامي هیوادونو په ښو اړیکو او ملاتړ منفي اغیز وکړي. په خاص ډول بیا د اسلامي هېوادونو کنفرانس له دې دریځ وروسته په دې اړه خپله غونډه اعلان کړه .

-دا دریځ کولی شي سیاسي انزوا نوره هم زیاته کړي په کوم کې چې امارت موقعیت لري او ممکن امارت په رسمیت پیژندلو پروسه نوره هم وځنډوي.

-دا دریځ به د افغانستان خلکو ته د نړیوالې ټولنې په بشري مرستو اغیزه وکړي، له یوې خوا افغانستان لا هم د اقتصادي ځان بسیاینې په لاره کې نړیوالې ټولنې ته اړتیا لري او له بلې خوا په اوسني وضعیت او د سړنې ژمې په سړه هوا کې به خلک له زیاتو ننګونو سره مخ شي .

-دغه دریځ یوه بله دروازه پرانیستله چې په هیڅ صورت به د هیواد د راتلونکي لپاره ګټوره نه وي. له یوې خوا یې د نجونو د زده کړې مخه ونیوله او له بلې خوا غربي بنسټونو او هېوادونو د افغان نجونو د جلبولو لپاره خپلې دروازې پرانیستې، چې بې له شکه دوی ته یې یو ډول فرصت برابر کړ، چې مشهوره وینا ده، «از آب گل‌آلود ماهی گرفتن .»

-دا دریځ به د اسلامي امارت په ډیپلوماسۍ باندې د ښو اړیکو، د نړیوالې ټولنې په ډاډ او د اوسني نظام د رسمیت د پیژندلو لپاره پر ډیپلوماسۍ اغیز وکړي او په دې لاره کې به د ستونزو لامل شي.

## پایله

له قرآني ایتونو او نبوي احادیثو څخه اخیستل شوي حقایق، د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي امت د معتبرو علماوو اقوال او د اسلامي نړۍ اوسني واقعیتونه، نه یوازې دا چې د ښځو د تعلیم ممانعت نه کوي، بلکې په مختلفو اظهاراتو سره ښځې یې ډیرو قضیو ته هڅولي دي چې له توپیر پرته د نارینه وو ترڅنګ علم او پوهه زده کړي. د پورتنیو بحثونو په رڼا کې له اوسني وضعیت څخه د وتلو لپاره لاندې وړاندیزونه مطرح کیږي

1. د اسلامي امت معاصر علماء په نني عصر کې د ښځو زده کړه یوه جدي فردي، کورنۍ او ټولنیزه اړتیا ګڼي. دا اړتیا د افغاني ټولنې لپاره ډیره اړینه ده او باید په پوهنتونونو کې د علم او پوهې د دروازې په پرانیستلو کې باید هیڅ ځنډ ونه شي. ځکه چې دې کار زموږ د ټولنې اوسنۍ ستونزې هم زیاتې کړې او روان وضعیت به لا پسې خراب کړي. د امنیتي وضعیت خرابېدل به ګډوډې، د کډوالۍ د زیاتوالي، د فقر او بې روزګارۍ دایره پراخه کړي او په هېواد کې به د جهالت دایره لا نوره هم پراخه کړي .

2. اوسنی وضعیت د افغاني ټولنې د اکثریت له هیلو سره په ټکر کې دی او ملت له اوسني نظام څخه د خوندي چاپېریال او د زده کړو د وسایلو د برابرولو لپاره خپل غږ پورته کړی او اسلامي امارت ته په کار ده چې په دې برخه کې د شرعي احکامو په رڼا کې مناسب چاپیریال او لازمي اسانتیاوې برابرې کړي .

3. د هېواد علماوو او پوهانو او د اسلامي هېوادونو علماء هم په دې اړه خپل وړاندیزونه وړاندې کړي او ګڼې حل لارې یې وړاندې کړې هم دي، چې اسلامي امارت باید د علماوو له مشورو څخه په استفادې سره د خلاصون بهیر ګړندی کړي او د بیا پیلیدو پروسه ګړندی کړي، او هم د اوسني وضعیت د خرابیدو لامل نه شي.

4. اسلامي امارت باید تل له نورو هیوادونو او نړیوالې ټولنې سره د خپلو اړیکو د عادي کولو په خاطر تدبیرونه ونیسي او د پیاوړتیا لپاره یې هڅې وکړي، دا چلندونه چې له نړیوالې ټولنې سره اړیکې کمزورې کوي باید د فردي ذوق او عقایدو له دائرې څخه لرې شي او د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو په رڼا کې پریکړې وشي، د معتبرو پوهانو نظرونه، فقهي لومړیتوبونه او د مشورې اصول باید د اوسنیو ستونزو او ننګونو د حل لپاره ترسره شي، نه دا چې داسې دریځ غوره کړي چې اوسنیو ستونزو ته وده ورکړي .

5 . په اوسني حالت کې چې هیواد په سیاسي انزوا کې دی او افغاني ټولنه له ډیرو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان ده؛ زغم او اسانتیا باید د کار او پالیسي جوړولو په مختلفو ابعادو کې وکارول شي، تصمیمونه او دریځونه باید په ډیر دقت سره واخیستل شي ترڅو اوسنیو ستونزو ته وده ور نه کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

6- د ښځو لپاره د تعليم د حق تر څنګ د کار زميني هم د اسلامي شريعت په رڼا کې تشريح شي، تر څو د ټولنې يوه لويه برخه چې په دولتي، خصوصي او نړيوالو ادارو کې په دندو ګمارل شوي په يو خوندي چاپيريال کې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

7 . په ښاري چاپېريال کې د ډېرو کورنيو اقتصادي وضعيت په داسې ډول جوړ شوی چې د کورنۍ غړي (نارينه او ښځې) د اقتصادي اړتياوو په پوره کولو کې همکاري کوي، د کار ځای څخه د ښځو ايستل به د ډېرو ستونزو لامل شي. په دې اساس او د اسلامي شريعت او په دې برخه کې د ښځو شتون ته په کتو د کاري تګلارې رامنځته کولو ته جدي اړتيا ده، نه دا چې نامناسب شرايط د ښځو د کار مخه ونيسي .

8 . اسلامي امارت دې له هېواد څخه د بې باورۍ، بې اعتمادۍ او د تېښتې د فضا د رامنځته کېدو د مخنيوي په موخه د اسلامي احکامو، د هېواد د علماوو د نظرياتو او د ټولنې د عاجلو اړتياوو په رڼا کې د ښوونځيو او پوهنتونو د بيا پرانيستلو نېټه اعلان کړي او په دې برخه کې د شته ستونزو لکه ښوونې او روزنې ته اړتيا، مناسبه فضا، د تدريسي نصاب تنظيمول او داسې بدلونونو ته عاجل د پای ټکي کېږدي.

## مأخذونه:


١. {سوره فاطر، الآيه: ٢٨}

2. عبدالباقی، مصباح الله (١۴٠١ش)، د ښځو تعليم د شريعت په رڼا کې، انتشارات حامد رسالت، کابل، ص ١۴٣-١٦٦.

3. العسافي، محمد بن احمد (د ت )، الإصابة في استحباب تعليم النساء الكتابة، تقديم: معالي الشيخ الدكتورعلي بن مرشد المرشد، ص ١٢.

4. محمد الغزالی وآخرون، المرأة في الإسلام، مطبعة اخبار اليوم، القاهرة 1991م ص 59.

5. زينب محمد فريد، تعليم المرأة العربيه في التراث وفي المجتمعات العربية المعاصرة، الانجلو المصرية، قاهرة، ص 8-27.

i. تلويزن ملی، ويدئوکليپ، لينك :

https://www.google.com/search?q=%D9%85%D9%88%D9%84%D9%88%DB%8C+%D9%86%D8%AF%DB%8C%D9%85+%D8%AA%D9%84%D9%88%DB%8C%D8%B2%D9%88%D9%86+%D9%85%D9%84%DB%8C


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ii. الجزيرة. " أفغانيات يتحدثن للجزيرة.. احتجاجات مكبوتة على قرار طالبان إغلاق الجامعات أمام الفتيات " كابل، 22/12/2022 . لینك:

https://www.aljazeera.net/politics/2022/12/22/%D8%A3%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D9%8A%D8%A7%D8%AA%D9%8A%D8%AA%D8%AD%D8%AF%D8%AB%D9%86-%D9%84%D9%84%D8%AC%D8%B2%D9%8A%D8%B1%D8%A9-%D8%A7%D8%AD%D8%AA%D8%AC%D8%A7%D8%AC%D8%A7%D8%AA

iii. CSRS، "قضیه تعلیم دختران؛ چالش بزرگ برای امارت اسلامی " کابل، 17/7/1401، لینك :

https://csrskabul.com/?p=7646

iv. اديو آزادي، " نتايج امتحان کانکور اعلان شد؛ در میان ده برندۀ نمرات عالی٬ هیچ دختری وجود ندارد" ، 25 جدي 1401، لینك :

https://da.azadiradio.com/a/32116909.html

v. الجزيرة. " أفغانيات يتحدثن للجزيرة.. احتجاجات مكبوتة على قرار طالبان إغلاق الجامعات أمام الفتيات " كابل، 22/12/2022 . لینك:

https://www.aljazeera.net/politics/2022/12/22/%D8%A3%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D9%8A%D8%A7%D8%AA%D9%8A%D8%AA%D8%AD%D8%AF%D8%AB%D9%86-%D9%84%D9%84%D8%AC%D8%B2%D9%8A%D8%B1%D8%A9-%D8%A7%D8%AD%D8%AA%D8%AC%D8%A7%D8%AC%D8%A7%D8%AA

vi. الجزيرة، " حظر التعليم الجامعي على الأفغانيات.. قلق أممي وتنديد أميركي وقطر تدعو لمراجعة القرار" ، 21 /12/2022، لینك:

https://www.aljazeera.net/news/2022/12/21/%D8%AD%D8%B8%D8%B1-%D8%A7%D9%84%D8%AA%D8%B9%D9%84%D9%8A%D9%85-%D8%A7%D9%84%D8%AC%D8%A7%D9%85%D8%B9%D9%8A-%D

vii. BBC PERSIAN، "اجرای قانون منع حجاب در فرانسه آغاز شد"، 02 سپتمبر ۲۰۰۴، لینک:

https://www.bbc.com/persian/news/story/2004/09/040902_mf_headscarves

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بېپرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۹۸۶۴۹۰۰۷